مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالکریم رحیم

۲۰۲۰/۱۰/۰۶

# امارت د اسلام په سر کې نه و
# او نه د خلیفه الرسول سلطې دولتی تشکیلات نه درلودل

ښاغلی نګارګر د «طالبان برای مفاهیمی که بکار میگیرند تعریف ملموس ندارند» تر عنوان لاندی مختصره خو مهمه لیکنه کړی. لومړی له ده څخه مننه کوم چې د امیر معنی او صرفی جرړه یی توضیح کړې. بیا ښاغلي څو سوالونه مطرح کړی چې یوه څه توضیح ایجابوی. د ده لومړی پوښتنه داده چې «ایا [طالبان] به انتخابات ازاد تمکین میکنند یا رئیس جمهور [امیر] را اهل حل و عقد انتخاب میکنند؟» زه په لاندی لیکو کې غواړم چې په دی موضوع رڼا واچوم.

طالبان پر آزادو انتخاباتو عقیده نه لری او نه هم داسی کار په اسلام کې شوی دی. په عربو کې د حکومت مفکوره موجوده نه وه او د دوی وفاداری د شخص سره وه، نه داسې دوامدارې اداری یا موسسې سره و چی د حکومت نوم پرې کیښودل شي. د اسلام د پیغمبر (ع) د رحلت نه وروسته په داسی حال کې چې د هغه کورنۍ او د کورنۍ مشر علی بن ابی طالب د هغه د تکفین او تدفین په امورو بوخت و، مهاجر چې قریش وو په مسجد نبوی کې د مشر د ټاکلو د پاره راټول شوی وو. په همدې وخت کې څوارلس تنه انصارو په ثقیفه بنی سعیده کی غونډه کړې وه چې د پیغمبر (ع) نه وروسته د مشرد ټاکنې په باره کې سلا مشوره وکړی. د پیغمبر د رحلت نه وروسته انصارو د مسلمانانو یا مومنینو مشري د خپل حق ګڼه او غوښتل یې چې سعد بن عباده مشر وټاکل شي. خو کله چې مهاجر خبر شو نو ابوبکر د عمر او ابو عبیده سره ځان هلته ورساوه او انصارو ته یی وویل چې قریش د مکی خادمان دی، رسول الله هم قریش و او عرب د قریشو پرته د بل چا مشري نه مني نو دا زمونږ حق دی. د یو څه بحث وروسته حباب بن عمر پیشنهاد وکړ چې دوه مشران دې وي. خو عمر بن خطاب دوی ته وویل چې ابوبکر د پیغمبر «رفیق غار» دی او هغه ته ډیر نژدی و نو د ابوبکر لاس باندی لاس کیښود چې ما درته بیعت وکړ. په دې ډول ابوبکر مشر شو. ابوبکر ته د خلیفه الرسول نه د امیر المومنین خطاب کیده. ابوبکر چې تاجر و د مشری په لومړیو شپږو میاشتو کی دواړه کارونه کول. وروسته مسلمانان متوجه شو چې په یو وخت کې دواړه کارونه نه شي کیدلای نو ده ته یی معاش وټاکه چې یوازی د خلیفه الرسول په توګه د مسلمانانو امورو ته توجه وکړي. ابوبکر په خپل ژوند کې عمر د خپل جانشین په حیث وټاکه یعنی نه مشوره او نه انتخابات وشو او نه په دی مورد کې د مسلمانانو/ مومنینو اعتراض چا واورید.

عمر ته خلیفه الخلیفه الرسول ویل کیده کله چې عمر د قدرت په اوج کې زخمی شو نو ده علی، عثمان، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابی وقاص، زبیربن عوام، طلحه بن عبیدالله چې ټول شپږ کسان کیدل و نومول جې یو کس دې له خپله منځه د مشر یا امیر المومنین و ټاکه. طلحه دې وخت کې مدینه کې نه و او دی نورو پنځو تنو هر یو مشرې د ځان د پاره غوښتله او د درې ورځو جر او بحث وروسته عبدالرحمن بن عوف وویل چې عثمان به امیر المومنین شي. درې کسانو عثمان ته بیعت وکړ او علی ورته بیعت و نه کړ. د امت مسلمه/ مومن څخه چا پوښتنه و نه کړه او د عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابی وقاص او زبیر بن عوام په پیروی نورو مسلمانانو عثمان ته بیعت و کړ.

د مومنینو د امیر او د پیغمبر د دوه لورګانو د خاوند، عثمان ، پر ضد د بسطوط او بصرې عربو بغاوت وکړ او دی یی په خپل کور کی د قرأن د لوستو په حال کی وواژه. عثمان د هغه د کور ښځو د خپلو غلامانو په وسیله د دې د پاره چې مړي ته نوره بی حرمتی و نه شي په پټه د یهودو په هدیره کی ښخ کړ. دلته دا خبره د غور وړ ده چې «اصحاب کرام» خو هلته وو ولې دوی د خپل امیر د ملاتړ او ساتنې د پاره هیڅ اقدام و نه کړ. ویل کیږی چې یوازی علی د خپلو زامنو حسن او حسین سره څو شپې د هغه د کور پیره کوله. خو د دې پوښتنی خواب دا کیدلای شي چې لا تر دی وخته پورې مسلمانانو حکومتی تشکیل نه درلود.

د علی بن ابی طالب د مشرۍ په باره کی سنی علما وایی چې د عثمان د شهادت نه وروسته بغاوت کونکی علی ته ورغلل او ورته یې وویل چې خلافت قبول کړه خو علی دی کار ته زړه نه ښه کاوه او دا پیشنهاد یی رد کړ. باغیانو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دی تهدید کړ چې که مشري و نه منی نو په مدینه کې به قتال پیښ شي. علی د مجبوریته د مسلمانانو د نجات د پاره دی کار ته غاړه کیښوده. د علي خلافت د امویانو چې د عثمان بن عفان تربوران وو او د هغه شپږو تنو د جملی نه چې عمر د مشرئ د پاره مناسب ګڼلی وو دوه تنو (زبیر بن عوام او طلحه بن عبیدالله) د مسلحانه مخالفت سره مخامخ شو. د امویانو مشران د عثمان د تره زوی او منشي، مروان، او د شام والی معاویه وو. ام المومنین عایشه هم د علی په مخالفه ډله کې وه. کوم خشونت چې د امیر کیدلو په سر د مسلمانانو تر منځ را پیدا شو دوی یې بالاخره دی نتیجی ته ورسول چې د روانی «فتنې» د ختمولو د پاره دی معاویه، عمرو بن عاص او علی دری واړه له منځه یوړل شي. په دوی کې یوازی علی شهید شو او دا نور دوه کسان ژوندي پاتې شو. د علي پلویانو حسن بن علی ته بیعت وکړ او معاویه خو لا پخوا ځان امیر المومنین کړی و. اوس نو د مسلمانانو دوه امیران/خلیفه ګان وو – حسن بن علی او معاویه. ویل کیږی چې معاویه ډیر زیرکه سړی و او لقب یې حِلم و. ده د عمرو بن عاص طرفداری هغه ته د ټول مصر د خراج د ورکولو په بدل کی لاس ته راوړې وه او حسن بن علی یې د دوه ملیون درهمو په بدل کې وهڅاوه چې د خلافت نه تیر شي. او حسین بن علی ته یې د ټول اهواز خراج ومانه. معاویه د خشونت او رشوت په نتیجه کې امیر المومنین شو.
دا امیران/خلیفه ګان ټول د پیغمبر (ع) خپلوان وو: ابوبکر او عمر یی خسران اوعلی او عثمان زومان یې وو؛ معاویه د پیغمبر(ع) د نیکه، عبدالمطلب، د سکه تره، عبدالشمس، لمسی و.
له دی خو داسی معلومیږی چې اصلاً د حکومت یا اداری په نامه څه شي شتون نه درلود او نه د اسلام په صدر کې چا د حکومتداری څه ضوابط یا قواعد ایښي وو. د دې تاریخي پیښو نه څرګندیږی چې د اسلام په صدر کې د تشکیلاتی لحاظه د اسلامی نظام او امارت په نامه کوم شي شتون نه درلود او امیر المومنین یا خلیفه د عامو مسلمانانو په مشوره یا انتخاب نه تعینیده. «اهل حل و عقد» خو په قران کې راغلی دی خو تشکیلات یی تصریح شوي نه دی او نه خلفای راشدینو او وروسته اموی او عباسی مشرانو داسې کار کړی چې ورته د اهل حل اوعقد د شورا نوم ورکول شي. دا اصلاً یوه مجهوله مفکوره ده. په دې باره کې ښاغلی محمد محِق په افغان جرمن انلاین کې خپرې شوې مقاله کې لیکی: «هیچګاه ګروه یا شورای رسمی بنام اهل حل و عقد وجود خارجی پیدا نکرد و هیچ خلیفه ای با رای این شورا به حکومت نرسید. نظریهٔ اهل حل و عقد نظریهٔ یتیم بود که هیچ مرجع و نهادی در تاریخ اسلام به آن اهتمام نداشت و کسی در پی اجراء و تطبیق ان بر نیامده است.»
حتی د اسلام د امپراطوری د جوړونکي، عمر، په وخت کې د کومې داسې اداری جوړښت موجود نه و چې د حکومت نوم پری کیښودل شي. عمر د ابوبکر غوندی د قوم د مشر په توګه کار کاوه. ویل کیږی چې یو وخت د زکات یو شمیر اوښان مدینی ته رالیږل شوی وو او دی ځانته د ورځی په سره لمر کې لګیا و د اوښانو شمیر، سن، جنسیت، جسامت او عیوب یې معلومول. د معاویه په زمانه کې حسین بن علی د قیمتی شیانو یوکاروان چې د یمن نه دمشق ته روان و راګرځولی و او معاویه ته یی لیک استولی و چې دا مال که تاته در رسیدلی وی نو تا به په خپله کورنۍ ویشلی وی نو ما کاروان راستون کړ او مال به یی په خپله کورنۍ وویشم. دلته حسین د معاویه سره د مساوی القدرت سړی په حیث خبری کوی نه د حکمران په توګه. مطلب دا چې د قدرت مرکزونه وو او یو کس یی د مشر ملک په حیث منلی و.
د امیر المومنین اتوریته محدوده وه. دی نه د روم د امپراتور غوندې و، نه د فارس د شهنشاه او نه د پاپ غوندې. د امیرالمومنین کار د مشاور او د ستونزو د حل کونکي و. د نهمی پیړی یو بیزانتینی مورخ د مسلمانانو مشر د لومړی مشاور (first counsellor) په نامه یاد کړی دی. د خلفای راشدین په زمانه کې مدینې په تازه فتح شوو ولایتونو کنترول نه درلود. خلیفه د والیانو د منصوبولو او هغوی ته د هدایت ورکولو صلاحیت درلود او دا کار یې کاوه خو د هدایاتو د تعمیل امکانات چې یوی پراخه بیروکراسي ته ضروت درلود ورسره نه وو. فتح شوی ولایتونه د فاتح عربو قبیلو د شخصی مال غوندې وو. مسلمانان کولای شي د زمانی د اقتضاء سره سم حکومت جوړ کړی. د دولت د مشر د ټاکنې او د حکومت د سیستم ضوابط او قواعد جوړ کړی او د حکومت د امورو د نظارت د پاره انتخاب شوې ملی شورا تاسیس کړي. دا د شرعیت خلاف کار نه دی.
کله چې طالبان منځ ته راغلل نو د دوی مشر معلوم نه و. کومو خلکو چې په کندهار کې ملا محمد عمر امیر المومنین منصوب کړ د ټول افغانستان استازي نه وو. حتی په کابل کې د ملا ربانی په مشرئ ډلی یو څه موده ملا عمر د امیر په توګه و نه پیژانده. زما ښه یاد دي چې د کابل راډیو پوره لس ورځی د ملا محمد عمر د امیر المومنین کیدو خبر خپور نه کړ او نه یې دا اصطلاح په خبرونو کې استعمال کړه.
طالبان نه په انتخاباتو عقیده لري او نه د ملت سره په مشوره معتقد دي. دوی خپل اقتدار ته د اسلامی بڼې په ورکولو غواړې چې د ۱۹۹۴ غوندې د دین نه په سوء استفاده یو نامانوس استبدادی نظام ایجاد کړي چې مشران به یې هدایت د راولپنډئ نه اخلي او د افغانانو سره به د ملک مفتوحه د خلکوغوندې برخورد کوي.

پای

محمد محق   افغانستان، امارت یا جمهوریت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ